# په اسلام کې
# د تشبه فلسفه

مولانا قاری محمد طیب

ژباړن:

سید احمد الله هاشمي

په اسلام کې د تشبه فلسفه

ژباړن: سید احمد الله هاشمي

# Philosophy of Imitation in Islam

Syed Ahmadullah Hashimi

2023

ISBN 978-9936-661-59-2

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د ژباړې مرکز

# په اســـلام کـــې
# د تشبه فلسفه

ليکوال: مولانا قاري طيّب رحمه الله

ژباړه: سيد أحمدالله هاشمي

## د کتاب ځانگړنې:

**د کتاب نوم:** په اسلام کې د تشبه فلسفه

**ليکوال:** حکيم الاسلام مولانا قاري طيّب رحمه الله

**ژباړه:** سيد أحمد الله هاشمي

**ايډيټور:** صلاح الدين ادهم

**مهتمم:** مولوی محمد عمر جلال

**د چاپ کال:** ۱٤۰۱ل / ۱۴۴۴ هـ ق

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

**د چاپ ځای:** لايف سټار مطبعه، کابل-افغانستان

ISBN : ۹۷۸-۹۹۳٦-٦٦١-۵۹ – ۲



**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


د کتاب په اړه نظر ........ أ
د ژباړن مقدمه ........ ج
تشبه او انساني فطرت ........ د
تقریظ ........ و
تقریظ ........ ز
تقریظ ........ ح
تقریظ ........ ط
تقریظ ........ ك
د لیکوال مقدمه ........ ١
په اسلام کې د تشبه فلسفه ........ ٧
لومړی برخه ........ ٧
اصولي خبرېنه ........ ٧
تمهید ........ ٩
د قوم د مرض تشخیص: ........ ١٣
د نبوي علاج نسخه: ........ ١٦
لومړی څپرکی ........ ٢٩
د تشبه د مسئلې اصلي ریښه ........ ٢٩
دویم څپرکی ........ ٣٧
د تشبه د حقیقت عقلي او حسي حیثیت ........ ٣٧
دریيم څپرکی ........ ٤٣
په دنیا کې مختلف قومونه او د هغو د بقا او تحفظ راز ........ ٤٣
لومړی بحث: معنویات له محسوساتو سره په ځانګړتیاوو کې مشابه دي ........ ٤٣
دویم بحث: د اسلامي ارکانو شکلونه ........ ٤٤
دریيم بحث: قومي امتیازات او د مذاهبو اختلاف ........ ٤٦
څلورم څپرکی ........ ٥٥

د تشبه روايتي او نقلي نقشه ........................................................ ۵۵
لومړی مبحث: له کفارو سره د تشبه په اړه قرآني موقف .............................. ۵۵
دویم مبحث: په قرآن کریم کې د تشبه د ترک مظاهر ................................. ۵۹
درېیم مبحث: د تشبه نبوي لارښود ................................................. ۷۵
څلورم مبحث: تشبه او زموږ سلفِ صالح ............................................. ۷۸
پنځم څپرکی ............................................................................ ۹۳
آیا د اسلام اساس د کفر مخالفت دی؟ .............................................. ۹۳
شپږم څپرکی ............................................................................ ۱۰۱
د تشبه فقهي مرتبې ................................................................. ۱۰۱
په اسلام کې د تشبه فلسفه ........................................................... ۱۱۳
دویمه برخه ............................................................................. ۱۱۳
تطبیقي څېړنه ........................................................................... ۱۱۳
لومړی څپرکی ........................................................................... ۱۱۷
تشبه او د ذات نښې ................................................................. ۱۱۷
دویم څپرکی ............................................................................ ۱۲۱
بدني زوائد او د (کلمات الله) اتمام ............................................. ۱۲۱
درېیم څپرکی ........................................................................... ۱۳۳
ذاتي حاجتونه ....................................................................... ۱۳۳
لومړی مبحث: د تستر او لباس فلسفه .......................................... ۱۳۳
دویم مبحث: لباس و فېشن یې ................................................... ۱۷٤
درېیم مبحث: د لباس اړوند محظورات .......................................... ۱۸۸
څلورم مبحث: په لباس کې د مختلفو ډلو ترمنځ ظاهري او باطني امتیازات ......... ۲۰۲
لومړی څپرکی ........................................................................... ۲۰۹
د لباس په اړه شرعي موقف او د معاصر تعلیم یافته قشر شبهاتو ته ځوابونه ........ ۲۰۹
دویم څپرکی ............................................................................ ۲۳۱
د (من تشبه بقوم فهو منهم) حدیث په اړه ځینو شبهاتو ته یوه وقفه ................ ۲۳۱
دویم مبحث: درایتي شبهات ......................................................... ۲۳٤
درېیم څپرکی ........................................................................... ۲۶۱

د تشبه د منکرینو بې فایدې اصول او د هغې رد ........................................ ۲۶۱
دویم مبحث: پر باطني کیفیاتو باندې د ظاهري عملونو أثر ........................... ۲۶٤
ځلورم څپرکی ............................................................................. ۳۰۷
د (لا رهبانية في الاسلام) حدیث مقصد او مقتضی ...................................... ۳۰۷
پنځم څپرکی ............................................................................... ۳۱۳
د معترضینو شبهاتو ته نهایي ځوابونه او د تشبه اساسي څېړنه ........................ ۳۱۳

# د کتاب په اړه نظر

د علومو اکاډمي په چوکاټ کې د افغانستان د اسلامي امارت د فرهنګپالې خېړنيزې کړنلارې او تګلارې له مخې د ژباړې مرکز په دې موخه تأسيس شوی چې له نړيوالو او ملي ژبو (پښتو- دري) څخه د ژباړې له لارې د علومو او فنونو په بېلابېلو (ديني، بشري او طبيعي علومو) برخو کې د هېواد د هر اړخيزې ودې او پرمختيا لپاره خپلو مؤمنو هېوادوالو ته اغېزناک علمي- فرهنګي خدمتونه ترسره کړي.

د ژباړې مرکز د تأسيس له پيله په شتو محدودو امکاناتو د علومو په بېلابېلو برخو کې له معتبرو نړيوالو او زمونږ د ملي رسمي ژبو (پښتو- دري) څخه د خپلو علمي غړو او له بهر څخه د ځينو پياوړو ژباړونکو په علمي- قلمي مرسته او همکارۍ د يو شمېر مهمو آثارو ژباړې پيل کړې وې، چې دا دی اوس يې له نېکه مرغه د ځينو چاپي نسخې د مطالعې مينه والو ته وړاندې کوي.

د ژباړې مرکز د خپلو خېړونو په لړ کې دا ځل يو ډېر ارزښتناک ديني علمي اثر (التشبه في الإسلام) چې لوی ديني عالم او ليکوال حضرت مولانا قاري محمد طيب قاسمي رحمه الله په اُردو ژبه ليکلی او سيد احمد هاشمي پښتو ژبې ته د (په اسلام کې د تشبه فلسفه) په نوم راژباړلی، خپروي.

ليکوال د دغه معتبر اثر په دريو بابونو کې ليکلی، چې لومړی باب يې (د تشبه د مسئلې اصلي ريښه، د تشبه د حقيقت عقلي او حسي حيثيت، په دنيا کې مختلف قومونه او د هغو د بقا او تحفظ راز، د تشبه روايتي نقشه، آيا د اسلام اسا د کفر مخالفت دی؟ د تشبه فقهي مرتبې) موضوعاتو مشتمل دی، دويم باب يې دغه (تشبه او د ذات نښې، بدني زوائد او د کلمات الله اتمام، ذاتي حاجتونه) څېړکي لري او په دريم باب کې يې دغه (د لباس په اړه شرعي موقف او د معاصر تعليم يافته قشر شبهاتو ته ځوابونه، د من تشبه بقوم فهو منهم

حدیث په اړه ځینو شبهاتو ته وقفه، د تشبه د منکرینو بې فایدې اصول او د هغو رد، د لا رهبانیة في الاسلام حدیث مقصد او مقتضی او د معترضینو شبهاتو ته نهایي ځوابونه او د تشبه اساسي څېړنه) څېړلې دي.

په ټوله کې ویلی شو چې د دغه اثر مطالعه اوسمهال زموږ هر مسلمان، په ځانګړې توګه ځوان مسلمان کهول ته چې د نړیوال مدنیت او تهذیب په نوم هره شېبه د اسلام د دښمنانو له فتنو او شومو توطیو له کړکیچ سره مخامخ دي، ځکه ډېره اړینه ده چې په بشپړه توګه د سپېڅلي نبوي ژوند له سلیقې او طریقې خبر شي، د اسلامي شریعت له نظره د تشبه زیانونه او ممانعت هم وپېژني او د دې کتاب ټول مطالب او مفاهیم ورته د ژوند د لارې غوره مثالونه وګرځوي.

موږ دغه اثر د یوې ډېرې ارزښتناکه دیني، علمي- فرهنګي ډالۍ په توګه د دیني او ټولنیزو او طبیعي علومو د مطالعې مینه والو ته وړاندې کوو او دا یادونه کوو چې د علومو اکاډمۍ د ژباړې مرکز د دیني، بشري (ټولنیزو)، طبیعي علومو او نور معتبرو معلوماتي اثارو د ژباړو په برخه کې د هېواد دننه او بهر د پیاوړو لیکوالو، څېړونکو او ژباړونکو هر اړخیزو قلمي همکاریو او د خپرنیزو چارو د ښه والي لپاره د دوی رغنده مشورو ته سترګې پر لار دی او دا ژمنه کوي چې د دوی لیکلي او ژباړلي آثار، خپلو شتو امکاناتو ته په کتنه او پاملرنه په ښه معیار او صحافت چاپ او خپروي او د مطالعې مینه والو ته یې رسوي. (ومن الله التوفیق)

په درناوي

د ژباړې مرکز

# د ژباړن مقدمه

## تشبه او انساني فطرت

شیان د مشترکاتو سره سره د ځینو امتیازاتو او خصوصیاتو له وجې سره بېل شوي او ځانله ځانله نوعې په کې منځته راغلي، دغه خصوصیات ځینې ظاهري دي او ځینې باطني.

مثلاً د مرغانو ظاهري خواص وزرې، بڼکې، پنجې او الوتل دي او له باطني خواصو يې مثلاً په داسې انتیک ډول ځالې جوړول دي چې انساني عقل له سده باسي.

د څناورو ظاهري خواص پر جسم وړی، خاص جوړښت او خاصې پښې دي او باطني خواص يې مثلاً ځینې واښه خوري، غوښه نه شي خوړی او ځینې نور يې بیا غوښه خوړی شي، خو واښه نه شي هضموی.

د شاتو د مچیو ظاهري خواص وزرې، خاص هیئت و الوتل دي او له باطني خواصو يې مثلاً له خاصو ګلانو څخه عرق و شیره را ایستل او په خاصه طریقه ترې شات تیارول دي.

نو په عالَم کې چې هر څه دي، له خپلو ظاهري او باطني خصوصیاتو سره پیدا شوی، چې دغه خصوصیات فطرت بلل کیږي، ځکه دا خصوصیات کسبي او ثانوي نه، بلکې اولي او خلقي دي، چې همدا د فطرت معنا هم ده.

یا په بل تعبیر: د هرې نوعې د خاصو آثارو او مختصاتو لپاره مبدأ او منشأ فطرت نومول کیږي، چې تقریباً دا معنا، سره د لږ یا ډېر تفاوته د حکماوو له صورت نوعیه سره سمون خوري.

که انسان ته ځیر شو، په انسان کې هم په نوعي لحاظ ځینې ظاهري خواص او ځینې باطني خواص موجود دي، چې دغه يې فطرت باله شي. ظاهري خواص يې دا دي چې نه د مرغانو غوندې بڼکې لري او نه د نورو حیواناتو (چارپایانو) غوندې په وړیو پوښل شوی دی، بلکې خاص سیده او مستقیم قد و قامت يې دی او ځانګړی رنګ او زړه راښکونکی صورت لري.

باطني خواص يې عقل دی، هغه عقل چې د خپل خالق د معرفت طلب و تنده، د

خدای د عبادت جذبه او د هغه د خوشالولو عزم و اراده پکې دي.

څنگه چې نور حیوانات په خپلو باطني خصوصیاتو کې سره یو شان دي، همدا شان انساني نسل و نوعه هم په دغو خصوصیاتو کې اختلاف و تفاوت نه لري، نو پکار ده چې دغو بې تفاوته اولي او خلقي خصوصیاتو ته د انسان فطرت وویل شي.

آسماني دین او پیغمبران د همدې فطري تقاضا مطابق تعلیمات وړاندې کوي، یعنې که انسان له خارجي دباو او محیطي و شهواني قواسرو څخه گوښه رالوی شي، نو دغه آسماني تعلیمات به د خپل فطرت و باطني خصوصیاتو او مطالبو پر اساس استقبال کړي، په حدیث شریف کې همدې ابتدایي او اولي خاصیت ته او بیا له خارجي دباو و فشار څخه متضرره کېدو ته داسې اشاره شوې ده:

**«كُلُّ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ وَ يُمَجِّسَانِهِ».**

یعنې هر څوک په خپل فطرت او خلقي خصوصیاتو سره دنیا ته راځي، خو د محیط و ماحول په نتیجه کې خپل فطرت او د حق قبلولو استعداد و تنده له لاسه ور کوي. مثلاً د انسان فطري او خلقي خاصیت دا دی چې په لاس خوراک کوي، خو که د یو محیط د تاثیر په نتیجه کې په پښه خوراک شروع کړي، نو خپل فطرت به یې له لاسه ورکړی وي.

په حدیث کې د «علی» حرف د استعلا او سیطرې لپاره راوړل شوی، یعنې انسان په خپل فطرت او خلقي خواصو مسلط و حاکم وي او بغیر له کوم تکلفه په اسانۍ ترې ښکاره کېږي. لکه الله تعالی چې نبي کریم صلی الله علیه و سلم ته ویلي«إنک لعلی خلق عظیم» یعنې نبي کریم صلی الله علیه و سلم ته په خپلو عظیمو اخلاقو سلطه او استعلا حاصله وه او دغه اخلاق ترې په سهولت و اسانۍ صادرېدل.

په عام عادت کې چې ولادت لومړی ترسره کېږي، نو په حدیث کې په «یولد علی الفطرة» سره د انسان لومړنی حالت فطرت ښودل شوی او په «فأبواه..» کې «فاء» د تعقیب لپاره ده، یعنې که له ولادت وروسته په دویم پړاو کې د پلرونو له خوا پرې تربیتي دباو راوستل شي، نو خپل اصلي او لومړی حالت بدلوي.

پر انساني فطرت یوه تجربي دلیل ته تم کېږو:

هر شی خپل فطرت او اولي خواص لري چې همدا يې طبعي حيّز او نوعي وضع و حالت دی او په همدې کې د سکون و آرام ساه اخلي، خو که د قواسرو او محيطي فشارونو په نتيجه کې له دغې طبعي او فطري وضعې او حيِّز څخه منصرف و منحرف شي، نو سکون و آرام بايلي او د خپلو نوعي مقتضياتو او طبعي و فطري محاذ پر لوري پرېشانه و سرگردانه کېږي:

بشنو اين نی چون شکايت می کند

از جـــدايي هـــا حکايت می کند

از نيـــستان تـــا مـــــرا ببريده اند

از نفـــيرم مـــرد و زن نـــا ليده اند

څکه د کايناتو خالق د خپل مخلوق په ساخت و جوړښت کې تر هر چا ښه پوهېږي، کوم فطرت چې هغه په کې اخښلی، بل حالت يې نه شي جبرانولی.

د ډېرې فطرت او طبعي حيِّز پر څمکه ملاسته ده، که موږ يې له خپل فطرت څخه اړوو او هوا ته يې وارووو، نو سرگردانه کېږي او بېرته خپل فطري حالت ته را گرځي.

کفار چې له خپل فطرت څخه اوښتي او اسلام يې نه دی منلی، نو سکون هم نه لري، څکه هم په کفري ملکونو کې د ځان وژنې کچه هر کال لوړه وي. دوی ډېره هڅه کوي چې سکون پيدا کړي، هر ډول وسايل په کار اچوي، خو چې لاره غلطه وي، منزل ته رسېدل ممکن نه دي.

ترســـم نـــرسي بـــه کعبه، ای اعرابي

کاين ره که تو می روی به ترکستان است

کله چې يو مسلمان په يوه گناه کې ډېر وخت پاتې شي، يعنې په جزئي توگه له فطرت څخه واوړي، نو پر خپل فطرت باندې پر قايمو او دايمو خلکو پسې گرځي، چې هغه علماء او نېکان دي، د هغوی په مجالسو کې شرکت کوي، تر څو سکون و آرام ورته حاصل شي.

دا هغه مشاهده ده چې هېڅوک ترې انکار نه شي کولی.

نو موږ دې نتیجې ته رسېږو چې انساني فطرت د خپل خالق تعلیماتو ته پابندي ده، نو که وحي ته پابند نه وي، انسان نه دی، لکه اور چې سوځول ونه کړي، اور یې نه بولو، تیږه که په هوا کې ګرځي، تیږه نه ده، کوم مرغه به وي.

نو انسان ته هغه وخت انسان ویلی شو چې د خپل فطرت پر تقاضا یې عمل کړی وي، نه دا چې حیواني صفات یې خپل کړې وي او فطرت یې مسخ شوی وي.

هغه لیکوالان چې غربي افکارو ځپلي، دماغ و فکر یې د غرب په قیضه کې دي، په خپلو لیکنو کې د انسان و انسانیت نارې ډېرې وهي، خو د انسان په مقابل کې د حیواناتو تر څنګ ولاړ دي، دوی انسانیت په حیواناتو کې هم لټوي، حالانکې انسانیت د فطرت نوم دی او فطرت د نوعي امتیاز په موخه په موجوداتو کې اېښودل شوی استعداد دی، نو دوه فطرته ګډول او په یو بل کې یې مدغمول، له درایته لرې کار دی.

کله کله دا ببولاله هم ترې اورېدل کېږي چې فلان کافر څومره انسان دی، خو دې ته یې خیال نه دی چې انسان تر هغې پورې انسان کېدای نه شي چې خپل فطرت یې ساتلی او په تقاضا یې عمل نه وي کړی، چې فطرت یې وحي ته پابندي ده.

هو، دلته د یوې خبرې کول ضروري بولم چې د انسان یوه شرعي اصطلاح ده، بله ساینسي، او هره اصطلاح له خپل مصطلح څخه زده کېږي، نو موږ هم دغه اصطلاح د شریعت له ادرسه بیان کړه، خو په ساینسي اصطلاح کې د انسان حقیقت بیا وینې، غوښه، هډوکي، حساس والی او په خپله اراده تحرک دی، چې په دې کې ځناور هم ور سره شریک دي.

نو موږ چې کافر ته انسان وایو، دا د ساینسي-اصطلاح له مخې، نه د شرعي اصطلاح پر اساس، ځکه کافر هم حیواني روح لري او حیواني روح د وینې، غوښې، هډوکي، حساس والي او په خپله اراده د تحرک نوم دی، چې په نورو حیواناتو کې هم شته، یعنې که مسلمان و کافر دواړو ته موږ انسان وایو، نو دا به یوازې لفظي اشتراک وي، معنوي اشتراک به یې نه وي، ځکه د انسان فطرت اسلام دی، چې هغه په چا کې نه وي، معنوي اشتراک نه شي راتلی.

توضیحي مثال:

موږ عموماً غیرتي سړي ته زمری وایو او د ځنګل یو حیوان هم زمری بولو، خو دا سړی و حیوان د زمري په نوم کې یوازې لفظاً مشترک دي، نور معنوي اشتراک یې نه شته، ځکه زمری د مفترسانه فطرت نوم دی او انساني فطرت د وحیانه قیودو پابندي ده.

الله تعالی چې د ټولو مخلوقاتو خالق او په فطرتونو یې پوه او عالم دی، نو خپل هغه مخلوق یې تر څناورو هم بد یاد کړی چې د خپل فطرت ساتنه یې نه وي کړي:

**«أُوْلَئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ»**

یعنې کافرانو چې خپل فطرت پرېښی، نو د څناورو په څېر شوي، ځکه ترمنځ یې توپیر ورک دی، دواړه الهي قانون او وحي ته پابند نه دي او په «بَلْ هُمْ أَضَلُّ» سره یې دوی تر حیواناتو هم بدتر بللي، څرګنده وجه یې دا ده چې حیواناتو خپل فطرت ساتلی او بل فطرت ته نه دي اوښتي، خو کافرانو د خپل فطرت حدود کراس کړي او حیواني فطرت ته اوښتي دي.

د انساني فطرت ساتنه هغه وخت راتلی شي چې په هره مسئله کې خپل فطرت (اسلام) ته رجوع وشي، ځکه د انساني فطرت خپلېدل یا بایلل دوه مرحلې لري: یو، د قبلېدو مرحله. دوه، د ساتنې مرحله. لومړۍ مرحله اضطراري ده (که خارجي دباو پرې رانه شي، نو خپله خپلېږي) او د ساتنې مرحله یې اختیاري ده، که ساتنه یې ونه شي، د انسانیت په ساتنه کې به پاتې راغلي و او ساتنه یې هغه وخت راتلی شي چې په هره برخه کې الهي تعلیماتو ته غوږ ونیسو.

نو د تشبه مسئله هم باید د اسلام له ادرس څخه زده او عمل پرې وشي، ځکه که له کفارو سره تشبه غوره شي، نو یو به مو د اسلام دروازه نه وي ټکولې او بل به مو هغو خلکو ته ځان ورته کړی وي چې له انساني فطرته وتلي دي.

دا کتاب د تشبه په مسئله کې ډېر کامیاب او هدف ته رسېدلی، د عربو په چم دغه مسئله یې بحثاً داسې قتل کړې چې هېڅ پوښتنه یې بې ځوابه نه ده پرېښې، له شرعي، عقلي

او تجربې اړخه یې پرې خبرې کړې، هغو شبهاتو ته پکې ځواب ویل شوی چې د علي ګړ له کالج څخه راوتلې وې او د احتمالاتو هره خوا یې پرې داسې ور بنده کړې چې هېڅ سر ترې نه شي پورته کولی.

اللهم اغفرلي و لمؤلفه و لمن سعی فیه.

**څو ضروري یادونې:**

- ما دا کتاب له اردو ژبې را ژباړلی، خو د عنوانونو ترتیب مې یې له عربې ژباړې څخه راخیستی دی.
- د آیتونو او حدیثونو ژباړې مې د مصنف له ژباړو راخیستې دي.
- هڅه مې کړې چې علمي اصطلاحات او سخت ځایونه په لمنلیک کې تشریح کړم.
- په اردو کې د کتاب نوم (التشبه في الاسلام) و، خو ما پښتو کې د (په اسلام کې د تشبه فلسفه) نوم ور کړ. له فلسفې مصطلحه فلسفه نه ده مراد، بلکې هغې څېړنې ته هم فلسفه ویل کېدای شي چې لِم او عقلي علل پکې بیان شوې وي.

**مولوي سید أحمدالله هاشمي**

**د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژباړې مرکز، کابل**